AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۸/۱۹

# آزادي

د سکروټه زړه سپرغی ده آزادي!
یوه سـاه ؛ یوه پېړی ده آزادي!

اخ زما د ځيرۀ قام شعـور ويدۀ شو
هـلـی والـوتـه مـرغـی ده آزادي!

زنده ګي ده پکي ناستـه ؛ ولی ورکړه!
ښکلي نـاوي ده ؛ ډولـی ده آزادي!

ورو ګوتو ته د بم پر ځای قلم دی
وري نس ته مي ډوډی ده آزادي

د سوالګر ماشوم د پلار د سر په بيعه
د زړه زخـم تـه پـتـی ده آزادي

آزادي زما پـه لاس کي سيپاره ده
نه توپک او نـه مـرمی ده آزادي

داره! تا ته سري شين شي د خندا نه
يـاره ! ځـومـره لـېونـی ده آزادي

لـه پـردي قصـره بـاوره! کوزېدل دي
خپل چـوپـال خپلـه کيـږدی ده آزادي





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېرلو مخکي په ځير و لولـئ